## <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## اشغال شوی کشمیر له وسلوالو ځواکونو څخه د ازادۍ غوښتنه کوي، نه د ښکېلاکګرو له وسایلو (ملګرو ملتونو) څخه، چې تل یې ځورولي یو

له تېرو ۵۵ ورځو را پدېخوا په اشغال شوي کشمیر کې د نارینه وو شکنجه او د ښځو سپکاوی روان دی. د دې پرځای چې د پاکستان پیاوړي وسلوال ځواکونه په پوره زغم سره د کشمیر ژغورلو ته را ودانګي، د پاکستان لومړي وزیر عمران خان د ۲۰۱۹ م کال د سپټمبر په ۲۷مه له ملګرو ملتونو څخه د کشمیر د موضوع د حل غوښتنه وکړه. د پاکستان لومړی وزیر چا ته د مسلمانانو چارې سپاري؟ د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د دایمي غړو په توګه، ښکېلاکګر ځواکونه تل د مسلمانانو خاوره لاندې کوي، ویشي او یا له نورو سره په دغه کړنه کې مرسته کوي. امریکا د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا دایمي غړی دی، چې افغانستان او عراق یې بمبار او اشغال کړي دي. روسیه د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا بل غړی دی، چې په سوریه کې د بشار اسد د رژیم د خوندي کولو لپاره د مسلمانانو د وینو ویالې وبهولې او تر هغې وړاندې یې په ډېره بې رحمۍ سره په افغانستان او چیچینا کې مسلمانان ووژل. چین هم د ملګرو ملتونو د امنیت شورا غړی دی، چې د ختیځ ترکستان د ایغور د مسلمانانو د عقېدې (دین) خلاف په ښکاره ډول جګړه کوي. مسلمانان د شرابو او د خنزیر غوښې خوړلو ته اړباسي او ماشومان یې تبنتوي. ملګرو ملتونو خپله له تېرو اوو لسیزو را پدېخوا په خپله سیستماتیکه څارنه یهودي او هندو دولتونو ته د مسلمانانو د خاورې د لاندې کولو وخت ورکړی. دوی یوازې پرېکړه لیکونه خپرولی شي، چې د ښکېلاکګرو پر وړاندې هېڅ ارزښت نه لري. په حقیقت کې له ملګرو ملتونو څخه د مرستې غوښتنه له لیوه څخه د پسه د ساتنې غوښتنه ده.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** د باجوا-عمران رژیم اشغال شوی کشمیر د هغه ښکېلاکګرو په واک کې ورکړی، چې تل یې د اسلامي امت د بدن یو غړی پرې، وران او لاندې کړی دی. الله سبحانه و تعالی فرمایلي دي:

**﴿وَلَن يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا﴾**

[نسا:۱۴۱]

***ژباړه:*** *... الله سبحانه وتعالی د کافرانو لپاره پر مسلمانانو باندې د برلاسه کېدو هېڅ کومه لاره نه ده جوړه کړې.*

یرغلگر په ډېره زړه ورتیا سره په اشغال شوي کشمیر کې زموږ د وروڼو او خویندو خلاف جگړه کوي. په داسې حال کې چې د باجوه-عمران رژیم بیا د جگړې وېره خپروي؛ الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

**﴿وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُمْ مِنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ﴾**

[بقره:۱۹۱]

***ژباړه:*** *له هغوی سره هر چېرې چې مخامخ شئ، وجنگیږئ او له هغه ځای څخه یې وباسئ، چې تاسې یې ترې ایستلي یاست.*

د بصیرت او درک خاوندان پوهېږي، چې یوازې خلافت (د امت ډال) کولای شي چې د دښمن بې رحمو څپو، سپکاویو، او اشغال ته د پای ټکی کېږدي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ»**

(مسلم)

***ژباړه:*** *امام (خلیفه) هغه ډال دی، چې تر شا یې جگړه کېږي او پرې ساتل کېږئ.*

راځئ چې د وسله والو ځواکونو له زمریانو څخه وغواړو، چې د نبوت پر تگلاره د خلافت د بیا تاسیس لپاره خپل نصرت (مادي ملاتړ) ورکړي، څو اسلامي امت د خپل ایمان، پراخه سرچینو او زړه ورو سرتېرو په وسیله خپل دښمن ته ماتې ورکړي.

**د حزب التحریر-ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**د صدور گڼه: ۵/۱۴۴۱**

۱۴۴۱هـ.ق کال، د محرم ۲۹مه

۲۰۱۹م کال، د سپټمبر ۲۸مه